# د پښتو افسانې محتوائي بدلون

# Variety in the content of Pashto Short story

Abdul Jabar Sapand [1]

Pashto short story is a modern literary prose genre, the first Pashto short story Shledali Panna (Tears shoe) is published in 1913 which has written by Said Rahat Zakhili, since the beginning of short story we reveal that there are some changes and development in the context of Pashto short story, thus I found that the Pashto short story is reviewed in three historical periods that indicates the development and variations of its contents, themes and characters as bellow: (1917 to 1948) This period covered the contents such as ethics, social beliefs, tragedy, criticizing the worst culture, conflict between cruel and oppressed, the economy and ethnic discrimination among the lower and upper level people in the Pashtun society. (1989 to 1982) This period is a golden and historical movement in the contents of Pashto short story, Social life has been changed by the revolution and political struggling, freedom, free thought, equality, education, politics and economy added in the contents of Pashto short story, in addition the sexual short stories invented too, and a huge number of writers including women writers started to write Pashto short stories. (1983 up to date) it is has been a flue of contents diversity in the Pashto short story, in fact it is mostly conveying the messages war and its impacts since the 1979, fighting's, immigrations, unfortunates, poverty , religious fuss with a slight repetition of the first and second periods contents. In addition the symbolic short story has been started in this period.

لنډه کیسه د پښتو د داستاني ا دب یو مهم نثري فورم دی چې په لویدیځ ادب کښې short story او په کوزه پښتونخوا کښې ئې افسانه بولي. د لنډې کیسې پېژندنه ادیپوهانو په بیلابیلو بڼو سره کړېده چې، دلته ئې د ګونې په توګه یو څو لنډ تعریفونه را اخلو.

په لودیځ کښې د لنډې کیسې بنسټګر ایډګر ایلن پوه (Edger Allan Poe) لنډه کیسه داسې تعریفوي

> لنډه کیسه هغه نثري داستان دی چې لنډه وي او له نیم ساعت څخه تر دوو ساعتو پورې ختم شي. (۴)

د پښتو ادب معاصر لیکوال اسیر منګل لنډه کیسه داسې راپېژني

1 PhD scholar Pashto Academy University of Peshawar.

(( د ژوند د یو اړخ په هکله لیکونکي په فني چوکاټ کښې د ننه یوه کیسه په اختصار سره ولیکي چې لوستونکی په مکمله توګه له ځان سره واخلي او لوستلو نه پس یو تاثیر قایم کړي.)) (۱۰)

لنډه کیسه په پښتو ادب کښې ډېره لرغونې مخینه نه لري او تر ډېره بریده په پښتو ادب کښې د یو ځوان نثري ادبي ژانر په حیث پېژندل کېږي. که داستاني تاریخي سیر او مبدا ئې وڅېړو بیا هم د نظري اختلافاتو سره مخ کېږو، د پښتو ادب پوهان او څېړونکي د لنډې کیسې په ایجاد کښې سره یوه خوله نه دي په هر حال دا موضوع په دوو نظریو سره خلاصه کېدای شي.(۷)

اوله نظریه داده چې د پښتو ژبې نوم وتي کره کتونکي او استاد لیکوال قلندر مومند د پښتو ادب لومړنی افسانه نګار میا ازادګل بولي چې د پښتو لومړنۍ لنډه کیسه ئې په (۱۹۰۶م) کښې تحریر کړې ده.

دوهم نظردادی چې زموږ ګڼ شمېر معاصر ادب پوهان په ځانګړي ډول دبناغلی اسیر منګل دوروستیو څېړنو په استناد راحت زاخیلی د پښتو ژبې لومړنی افسانه نګار ګڼلی شوی او دده دوه لنډې کیسې د پښتو ادب لومړنۍ لنډې کیسې ګڼل شوي دي. لومړنۍ ئې شلېدلې پڼه او دوهمه ئې کونډه نجلۍ چې باالترتیب په (۱۹۱۳م) او ( ۱۹۱۷ م) لیکل شوي دي. (۱۰)

په هر حال د لنډې کیسې تاریخي سېر ته په کتو له ابتدا نه تر دې مهاله، پښتو لنډه کیسه دمحتوا یي رنګا رنګیو سره مخ ده بېلا بېل مضامین،ډول ډول کرکترونه، د سیاسي، جغرافیایي، ټولنیزو او کلتوري اغېزو ترسیوري لاندې په درې مشخصو تاریخي پیرونو کښې ئې مضمون ادلون بدلون موندلی دی چې دا تاریخي دورې په لنډ ډول معرفي کوو:

## لومړی پېر ( ۱۹۱۷ـ ۱۹۴۸م)

دا دوره د پښتو د لنډو کیسو د پېل یعنې د استاد راحت زاخیلي د( شلېدلې پڼې) له خپرېدو پېل کېږي او تر (۱۹۴۸م) پورې یو ګڼ شمېر لیکوال لکه سید رسول رسا، ماسټر عبدالکریم، سید راحت زاخیلي، نادرخان بزمي، عبدالحی حبیبي، استاد سعدالدین شپون،احسان الله هېر، افغانپور،

عبدالله بختاني،او نور کې شمېر لیکوال، د پښتو لنډې کیسې ولیکلې او د پښتو داستاني ادب ئې په خپلو خوندورو کیسو تود وساته. د پښتو لنډې کیسې شکلي جوړښت، کرکټرونه،او منځپانګه په دې دوره کښې د لیکوالو تر منځ ډېره د مقایسې وړ نه ده، که څۀ هم ځینې لیکوالو د لومړنیو هغې څخه ورځ تر بلې نوي کوله، چې دا د نوې کیسې ضرورت هم محسوبېدای شي. خو د جوړښت په لحاظ ئې اوږه په اوږه مزل کاوه.(۸)

د استاد راحت زاخیلي نه وروسته، هر لیکوال هڅه کوله چې په لنډه کیسه کښې خپله طبع و ازمایي ،نوي کرکټرونه، جوړ کړي او د کیسې له پاره نوې موضوع پیدا کړي چې، دا نوی والی د لیکوال په امتیازونو کښې شاملېدے شي، او له نورو ئې بېلوے شي،د کرکټرونو په برخه کښې به دا هڅه بریالۍ وي خو د کیسې محتوی او مضمون بیاپه بشپړ ډول توپیر ونشو کړای.(۳)

د لنډې کیسې په اړه دا خبره سمه ده چې کیسه د ژوند پېښې دي،او هر کیسه لیکوال چې لنډه کیسه لیکي نو مواد ورته دانساني ژوند پېښو او تجربو اخلي، په لنډه کیسه کښې هغه خبره نشي راتلای چې د ژوند سره تعلق ونلري،او یا هم د انسانانو د ژوند په تجربو کښې شامله نه وي . خامخا به د یو چا د ژوند پېښه، تجربه او په ژوند پورې اړوند حکایت وي. کله چې په یوه ټولنه کښې انسانان سره ګډ ټولنیز ژوند وژواک لري.او هر هغه څۀ چې د دوی په ژوند کښې پېښېږي په یوه یا بله بڼه ئې کیسه لیکوال په کیسه کښې رانغاړي، او هنري مالګه ورکوي.دژوند یوې وچې خبرې یا پېښې نه خوندور مضمون جوړوي چې په خپله لیکوال اولوستونکې هم ترې خوند اخلي.

د کیسې مضمون هغه مهال بنسټیز تغیر موندلی شي، چې د یوې ټولنې د انسانانود ژوند سطحه او شرایط بدلون وکړي.نو په دې سره ئې تجربې هم نوې شي او د کیسې مضمون په بنیادي توګه تغیر مومي، که یاد شرایط په خپل حال وي.او په یو رنګ روان وي نو تجربې هم زړې وي، حتی په کرکټرونو کښې هم کوم ژور بدلون نشي راوستلی. په هر حال ددې دور لنډې کیسې معمولاً له پېل څخه ټولنیزو اخلاقو، تراژیدي، د بد کلتور غندنه، د ظالم او مظلوم کش مکش،غریب او مالدار،بزګر او زمینداراوپه ټوله کښې د یوې غریبې ،وروسته پاتې او نالوستې ټولنې د وګړو د ژوند بېل بېل اړخونه بیانوي. که څۀ هم دا موضوع په ورستیو دوو دورونو کښې هم تر سترګو کېږي، خو د ټولنیز ژوند او تغیر په صورت کښې پرې زیاتوونه محسوسېږي.

که د استاد سید راحت زاخیلي د دوه لومړنیو کیسو مضمون ته پام وکړو،نو ګورو چې لومړنۍ کیسه (شلېدلې پڼه) کښې دیو بشپړ اخلاقي درس مضمون را نغاړي.او دوهمه کیسه( کونډه جینۍ) ئې د پښتنو د ټولنیز ژوند د ناوړه دودونو بیان او په مستعاره ژبه ئې غندنه کړیده.د کونډې د بد نصیب تلقینول،او دکونډتون نه ورته پېغور جوړول، زموږ د بدو دودونو، نالوستۍ او د شعور د ټیټې سطحې ښکارندويي کوي چې ددې کیسې منځپانګه ئې په داستاني اوهنري ژبه بیانوي.

خو له دې سره سره بیا په همدې دور کښې نور کیسه لیکوال هم شته،چې یاد مضمون ته نژدې خو په بېلا بېلوکړ کترونو، د ژبې بدلون او رنګارنګیو کښې ئې لنډې کیسې لیکلې چې دنمونې په توګه داستاد سعدالدین شپون د یوې کیسې ( د زهرو هزارې) یو څپرکی راخلو:

> ((زما پلار درې ښځې لرلې، چې یوه ئې په لنګون مړه شوه،ایله ئې څلویښتې پوره وه چې بله ئې وکړه،د هغې د راتلو په دویم کال د زهرو هزارې راپېدا شوه. دا یوه هزاره بوډۍ وه، او په هفته کښې به مو یو ځلې لیده ، چې د شولو په هغه اوږده پوله باندې به را روانه وه، چې د عمومي سړک نه زموږ کلا ته را غځېدلې وه. پلار مې زموږ کلا د شولوډېټیوپه منځ کښې په خپل لاس جوړه کړې وه. په اول کښې موږ ماشومانو دوه ستوې هزارې بلله ، ځکه چې سر ئې نژدې په زنګنو راځوړند و، او ځنیو په غبرګه انې بلله.
>
> هسې خو نورو فریقو هم په کلي کښې ګشت کاوه، لکه هغه ځنیور منګل چې اول به ئې د کاله د مشر زوی دنامه مثلاً صدیق،پوښتنه کوله او بیابه ئې بدله داسې شروع کړه (( د صادق جان کوړاخ کوړاخ برېتینه، په میدان کوي جنګینه، چې وګوري زمري بړبندونه(مړوندونه) ی موتوي، چې وریچینې راوځي تش کچکول ار(را) ډکوي)) یا هغه سړی چې دآس خورجینه به ئې د ګازرو ډکه وه او په غنمو به ئې مونږ ته راکولې.)) (۶ )

د استاد شپون دا لنډه کیسه هم د پښتو ادب لنډې کیسې د لومړي دور کیسو کښې شامله ده.د مضمون په لحاظ ئې ګورو چې د زړو روایاتو، بدو دودونواو خرافي عقیدو چې په پښتني ټولنه کښې په

دودیز ډول پاتې شوي لږ وډېر تر ننه ئې هم اغېزې پاتې شوي، کورنی تاوتریخوالی، بې سوادي، کم سوادي او د پورته یادوشوو کړنو او باورنو بدې پایلې د کیسې محتوا جوړوي.چې د لیکوال موخه بیا هم د یادو بدو کړنو او باورونو غندنه او په ټوله کښې اصلاحي پیغام لري.

د پښتو داستاني ادب په ځانګړې توګه د لنډې کیسې ابتدا په اصلاحي او اخلاقي مضامینو باندې شوې ده. چې تر ډېره بریده د اول دور کیسې همدا محتوا رانغاړي. او دهغه وخت دانساني ژوند د پښتني ټولنې یو واقعي تصویر په هنري چوکاټ کښې وړاندې کوي.

## دوهم پېر (۱۹۴۹ـ ۱۹۸۲م)

د لنډې کیسې دا تاریخي دوره د ۱۹۴۹ م کال څخه پیل اوتر ۱۹۸۲ پورې غزېږي. د پښتو داستاني ادب او په ځانګړي ډول د لنډې کیسې په حواله طلايي دوره ده. پدې مانا چې لنډې کیسې ته ئې د کمیت او کیفیت له اړخه ډېر څۀ ورکړل،په موضوعي لحاظ د لنډې کیسې لمن له بېلا بېلو رنګونو ډکه شوه، د خلکو دژوندانه په ټولنیز،سیاسي او اقتصادي برخوکښې د بدلون شنه څراغونه روښانه شول.دابدلون د ښو او بدو حالاتو دواړه سره مله وو،خو په هر حال د خلکو دژوند بڼه بدله شوه.

د همدې بدلون په سبب دانساني ژوند تجربې هم نوې شوې او دې تجروبو د کیسو په ځانګړي ډول د لنډې کیسې مضمون هم پراخ کړ او په محتوا کښې ئې څرګند بدلون رامنځته شو.

لنډه کیسه د کلتوري مضامینو، دودونو، کلیوالي ژوند د سختیو، مجبوریتونو، فقر، او د خپل منځي زور زیاتیو یو خفیف تکرار سره سره، د ډېرو نویو او تازه مضامینو خاونده شوه.

د پښتون قوم سره د آزادی، هېوادنۍ خپلواکۍ،مبارزې،سیاسي او نظامي حرکاتو فکر را پیدا شو.

ددې تفکر اساسي کربښې، هېوادنۍ خپلواکي او په خپله خاوره کښې د خپلواک او په خپل اختیار ژوند تېرول،د ظالم له لاسه د مظلوم خلاصی د لوړې طبقې او ټیټې طبقې واټن له منځه وړل،د فیوډال واکونه او مالي قوت راکمول، او د کار ګر په حقوقو او امتیازاتو اضافه کېدل او دې ته ورته څۀ نور ټکي هم وه چې د یو انقلابي تفکر ذهنیت ئې په لر او بر کښې را وټوکوو

ددې ذهنیت پر بنسټ په لر او بر کښې بېلا بېل خوځښتونه پیل شوه او د ټولنې د بنیادي تغیراتو له پاره ئې د سیاسي مبارزو اړوند حرکتونه او بلاخره په رزمي او مسلحانه کړنو هم صرفه ونه کړه.انقلابي تفکر رنګ راوړو،خو دې رنګونو سره ددېرو انسانانو وینې هم ملګرې وې،میندې بورې شوې ،مېرمنې کونډې شوې، پېغلې سرتوره،ماشومان یتیمان او بې کوره شول،ګاونډیو او لویدیځو هېوادونو ته مهاجرتونه هم پیل شول،د جلاوطنۍ،بې کورۍ او بې کسۍ دردونو ډېر پښتانه وکړول.

د پښتو مشهور متل دی(( که ګوټه وسوه نو د پوالونه یې پاخه شول )) پورته یادو ټولو بدمرغیو د پښتو ادب ته په عامه توګه او داستاني ادب ته په ځانګړې توګه ډېر څۀ ورکړل .هره ربړه، سخته ،تنګه،او د ژوند هره تجربه د پښتو لنډې کیسې مضمون شو،چې لنډې کیسې هم په خپل غېږ کښې وار په وار راونغاړل. نویو کرکټرونو ته ئې ژبه ورکړه، او د لنډې کیسې په هنري ژبه ئې هر کرکټر وغږوه.

د( ۱۳۵۷هـ ش) کال د ثور ( ۷مې) انقلاب د پښتو لنډې کیسې یو ستر باب جوړ کړ د مضمون سره سره ئې کیسه لیکوال ئې هم رامنځته کړل،چې ددې لیکوالو د سر سرې د هغې مهال ولسمشر نورمحمد ترکی وو.

نورمحمد ترکی د سیاسي او نظامي مبارزې سر بېره د پښتو داستاني ادب په برخه کښې ستر ګامونه واخستل، پښتوناولونه ئې ولیکل او لنډې کیسې ته هم د کیفیت او کمیت له پلوه د خپل قلم خواږه ورکړل.

د نوي کال خوب د ښاغلي نور محمد ترکي لومړنۍ لنډه کیسه ده چې د خپل ولس د راویښولو او د غریبو خلکو دحقوقو د ورکړې او په ټوله کښې ددوی په ژوندانه کښې د تغیر او پرمختګ د راوستلو محتوا او پیغام لري.

د نور محمد ترکي کیسې د روسي ادب نه اغېزمنې دي خو بیا هم په افغانستان کښې نوموړی د داستاني ادب او کیسه لیکوالو سر لاری ګڼلی شو.

په بره پښتونخوا کښې له نور محمد ترکي سر بېره شهید موسی شفیق ، غوث خیبري، عبدالروف قتیل،سلیمان لایق،نیک محمد پکتیانی، ګلاب ننګرهاری،احسان الله هیر،عبدالله بختانی،محمد الدین

ژواک، امین افغانپور،سید محمود کارګر او ګڼ شمېر نورو لیکوالو د لنډې کیسې د بډاینې له پاره خپل قلم وچلوو،خورا با کیفیته او ډېرې کیسې ئې ولیکلې ، دا کیسې تر ډېره بریده د ثور له انقلابه وړاندې کیسو سره د مضمون په لحاظ توپیر لري چې وړاندې ورته نغوته وشوه .

په کوزه پښتونخوا کښې هم د داستاني ادب دوهمه دوره د یو ډول شرایطو سره مخ ده. په ولس کې فکري بدلون د خپلواکۍ، هیواد پالنې، ملت پالنې او د انقلابي مبارزې له پاره د ځینوډلو او تحریکونو را منځ ته کېدل ددې سبب شول چې د پښتو ژبې داستاني ادب په ځانګړې ډول پښتو افسانې ته نوی مضمون او نوی رنګ ورکړي. د انقلابي مبارزینو بېلابېل کرکټرونه په کیسه کښې شامل شول. سیاسي مبارزې زور واخیست بې کوري او مهاجرتونه هم د پښتني معاشرې یوه برخه وه. بې کوري، بې وزلي، د استعمار سره جګړه او د جګړې ټولې ناخوالې د پښتنو زلمو د وینو باج واخیست خود پښتو افسانوي ادب په اننګو ئې سورخي وشیندله.(۱)

دلته د پښتو ولسي ادبي جرګې (پېښور)، هلې ځلې د یادولو وړ بولم او د میرمهدی شاه، زیتون بانو، طاهر افریدی او اجمل خټک نومونه د یادولو وړ دي چې د پښتو افسانې په پرمختیا او محتوایي بدلون کښې پوره لاس لرلی دی.

ګڼ شمېر نورو لیکوالو هم ددې دور د افسانې په نوي رنګونو کښې خپل کردارتر سره کړی دی. د بېلګې په ډول د مهاجرت مضمون چې د ماسټر عبدالکریم ، قلندر مومند او حسن خان سوز په خپلو کیسوکښې په ټول هنري مهارت را نغاړلي دي.

په همدې ترتیب نادرخان بزمي د ( مهربانۍ) په نوم لومړنۍ جنسي افسانه ولیکله چې ددې دور یو مهم امتیاز ئې ګڼلے شو.

اجمل خټک هم ددې دور یو انقلابي فکره او سیاسي مبارز لیکوال دی چې ددې دور کیسې ئې اکثره د پښتنو د سیاسي تحریکونو چې په مبارزو ځوانانو کښې د انقلابي روحیې د را پارولو او طبقاتي جګړې تصویرونه په خپلو کیسو کښې ترسیم کړي او یادو مضامینو ته ئې د پښتني ټولنې د شرایطو سره سم کرکټرونه ایجاد کړي دي.

د اجمل خټک په کیسو کښې انقلابي او جزباتي رنګ یو څۀ غالب په نظر رائحي دلته یې ( د زرو بوټی) تر سرلیک لاندې د یوې افسانې یو څپرکي را نقلوم.

((یوه لویه ارته حجره ده، څۀ څلویښت پنځوس کټونه په کښې پراته دي، هر کټ کښې دوه دوه ، درې درې زلمي ناست دي. د حجرې په دیوالونو کښې په یو قطار مورې ښخ دي. هر مورې کښې ټوپک اویزان دی. لنډې چنې ته ټولو مورو کښې لیندۍ اوترکشونه ځانګې. د حجرې منځ کښې ستنې سره نېزې ولاړې دی، یو څو مورو باندې بازونه او بابنې ، په ښو ګونګروګان شنېږي، هلته کټ کښې تازیان سپې تړلي دي. د ځني ځني کټونو سرونو ته تیرونه ولاړ دي، او دحجرې اړخ ته دګوټګې نه د اسونو دهنیدو اوازونه رائحي. هن یو غټ خر دشرمځ هومره ګولډانګ سپې هم تړلی دی. مینځه حجره کښې یو تک تور ډیوټ پروت دی.د پاسه پرې د مشال هځولې د شړشمو دتیلو ډیوه بلېږي. تک سره سپین مخونه ، کونډه بریت، سرې سترګې ، خوش پوش شازلمي ناست دی،دچا لاس کښې ژغونه ده،تاووي یې او څوک بوڼ غړیي، څوک غوبې ته جلب ماتوي ، څوک کته سموي ، څوک ټوپک ته تیل ورکوي او څوک د چاړه مخ خولوي.)).(۵)

د پښتو افسانې دا دوره د څومره والي او څرنګوالي له اړخه بډایه ده. ګڼو کیسه لیکوالو لنډې کیسې ولیکلې د پښتو کیسو د ډېروالي سره سره کره او پخې کیسې هم د پښتو داستاني ادبیاتو ډګر ته راووتلې په دې دوره کښې ښځینه لیکوالو د پښتو لنډو کیسو په لیکلو کښې خپله میړانه وښوده. زیتون بانو، کبری مظهری، سیده یاسمین،ثروت جهان کوکب، مبارک سلطانه شمیم، زاهده حلیم، پکهراج بیګم، زهرا خټک او فهمیده شاهین هغه نومونه دي چې په پښتو افسانو کښې ئې ښځینه احساسات، ضرورتونه، ټولنیز محدودیتونه، نفسیاتي آرمانونه د لومړی ځل له پاره ځای کړل او زمونږ د ټولنې ترخه واقعیتونه ئې د لنډې کیسې په هنري او پسته ژبه بیان کړل.

په دې دوره کښې ډېرې پښتو افسانې ولیکل شوې د کیسه لیکوالو شمېر هم زیات شو او د لومړی ځل له پاره د پښتو د لنډو کیسو ټولګې چاپ شوې.(۱۰)

## دریم پړاو ( ۱۹۸۳م تر اوسه)

دا دور چې په( ۱۹۸۳م ) کال کښې شروع او تر ننه روان دی . د پښتو او پښتني ټولنې د سختو ورځو او دردمنو حالاتو تصویرونه وباسي. په دې دوره کښې د پورته یادو دوو دورونو پیښې، تجربې او د کیسو کرکټرونه په لږ تغیر، ځینې کټ مټ او پیښې ئې په یو نوي عبارت تکرارېږي.

د ثور انقلاب خونړی تصویر، بې کوري، بې وزلي ، مهاجرتونه،د پښتني ټولنې کلتوري محدودیتونه، عقیدتي مبارزې او جګړې په سیاسي جوړښتونو کښې ددې دور د لنډې کیسې مضمون او محتوی جوړوي.

په دې دور کښې د افغانانو مبارزې مقاومت د خپلواکۍ چغې او وسلوالې جګړې لا هغسې جاري دي، دمهاجرتونو لړۍ په یو بل کورني ناورین بدلېږي. کورنۍ جګړې د تنظیمي ډلو تر منځ زرو اخلي او د جګړو ناخوالې او بدې اغېزې په یو او بل شکل لږ او ډېر تر ننه دوام پیدا کوي.

تردې مهاله پښتو افسانه د کمیت او کیفیت له پلوه ښهٔ غوړېدلې ده. کیسه او کیسه لیکوال ډېر شوي زاړه مفاهیم له نویو مفاهیمو سره غاړه غړۍ شوي او د معاصرې کیسې مضمون ئې نوے کړے دے .په دې دوره کښې د سمبولیکو کیسو شاهدان یو. چې ابتدا ئې زموږ دوه ښاغلو لیکوالو هر یو طاهر اپریدی،چې لومړنۍ سمبولیکه کیسه ئې د (غله مخونه ) په نوم د۱۹۸۳م په اکتوبر دپښتو پېښور میاشتنۍ مجله کښې خپره شوې ده.

په همدې ترتیب فاروق سرور د (تږې تنده ) تر سرلیک لاندې کیسه د ۱۹۸۳م کال د ولس مجلې نومبر - دسمبر ګڼه کښې خپره شوې ده.

سمبولیکې افسانې ددې دور ډېرو لیکوالو لکه زرین انځور، نورالدین یوسفزي،ډاکټر نصیب الله سیماب،عصمت قانع، ډاکټر زبیر حسرت او نورو لیکوالو ولیکلې چې دا بهیر تر اوسه جاري دی . دجنسي،نفسیاتي،سیاسي او نوروټولنیز مضامین چې په تېرو دوو دورو کښې ابتدا شوې وه.

په دې دوره کښې پرمختګ وکړ که څه هم له تېرو دوو لسیزو راهیسې د پښتنود ژوندانه په ټولنیز، اقتصادي،سیاسي او فرهنګي برخو کښې کافي پرمختګ شوی چې دا پراخوالي او پرمختګ په پښتو معاصره افسانه کښې هغه ډول چې لازم دی ،نه دی انځور شوی . د بیلګې په توګه ، که وګورو

پښتانه اوس د سل کاله وړاندی پښتانه ندي، د ژوند هر اړخ ئې څه نا څه بدل شوی، په اقتصادي حالت کښې ئې اوس جوت بدلون ليدل کېږي، اوس نو هر پښتون دهقان او بزګر ندی، سياسي تفکر ئې لوړشوي، دسواد کچه هم مخ په بره روانه ده، ښځينه تر يوه حده لوستي دي ، پښتنې ښځې سياست، تجارت، حکومت داري او په نړيواله سطحه مطرح دي، لدې سره سره ، پښتانه د نړۍ په تکالوژيک پرمختګ کې شامل دي، يا لږ تر لږه له اوسمهاله ټکالوجۍ نه د استفادې توان لري او د نن عصر له معلوماتي تکالوجۍ سره څنګ په څنګ مزل کوي ، ان تر دې چې خپله ژبه (پښتو) ئې د ګوګل په نړيوال جال کښې شامله او د انټرنيټي نړيوال ژباړن ماشين (Google Translator)برخه وګرځيده.

دا او دې ته ورته نور اوسمهالي پرمختګونه چې د پښتنو په ژوند کښې پيښ شوي په بشپړ ډول زمونږ په افسانوکې ندي انځور شوي.

خو له خپلو ځوانو کيسه ليکوالو دا هيله خامخا کوم چې د خپلې ټولنې او پښتني فرهنګ پراختيايي سير دقيقه مشاهده او عکاسي وکړي څو د هرې پيښې او تجربې تت تصويرونه په خپلو داستاني تابلو ګانو کښې رانه وځلوي.

## ماخذونه


۱: ازاد، محمد نعيم ، دپښتونخوا داستاني ادبيات، لاهور: پښتو ادبي غورځنګ کوټه،۲۰۱۲ م، ۱۵۷- ۱۶۳ مخونه

۲: انځور، زرين ،داستانونه، دوه مياشتنۍ مجله ، دوهمه دوره ، دريمه ګڼه، کابل،۲۰۰۴م،۶۷مخ

۳: انځور ،محمد زرين ،پښتو معاصر داستاني ادبيات، کابل: دانش خپرندويه ټولنه،۱۳۹۳هـ ش،۹۱،۶۰-۱۴۹،۹۵ مخونه

۴: جمشيد ، رشيدي ،ادب تيوري، کابل : انتشارات نامي،۱۳۹۱هـ ش ، ۷۵ مخ

۵: ختيک، اجمل ،پښتو او نورې افسانې ( لڅون او سمون ډاکتر محمد زبير حسرت) پيښور: يونيورسيټي بک ايجنسي، ۲۰۱۲م،۱۶۸ مخ

۶: شپون، سعدالدين د بنګې غاړه، پيښور: دانش خپرندويه ټولنه ، ۱۳۸۵هـ ،۱۲ مخ

۷: شريف ، شريفه، د لنډې کيسې تيوري، ژباړه، کابل: دولتي چاپ خونه،۱۳۶۷هـ ش،۲۱ مخ

۸: شینواری،دوست، د ادب د تیوري اساسونه دوهم چاپ ، ننګرهار: یار خپرندویه ټولنه،۱۳۹۳هـ ش، ۱۷۷-۱۷۸ مخونه

۹: روهي، محمد صدیق ، پښتو معاصر ادبیات، کابل: د افغانستان ټایمز مطبعه،۱۳۹۰هـ ش ،۱۳-۲۱مخونه

۱۰: منګل، اسیردپښتو افسانې سل کلن بهیر، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه،۲۰۱۳م، ۲۷-۳۶-۴۲-۱۶۸ مخونه

۱۱: وزیری، محمد اقبال ، دادبیاتو تیوري، پېښور: د پښتونخوا دپوهنې دیره، ۱۳۹۱هـ ش، ۵۶ مخ